# أسئلة وأجوبة عن شهر رمضان للصغار، ولا يستغني عنها الكبار

# د رمضان د میاشتې په اړه د کوچنیانو لپاره پوښتنې او ځوابونه چې لویانو ته هم اړین دي.

## د رمضان د میاشتې په اړه د کوچنیانو لپاره پوښتنې او ځوابونه چې لویانو ته هم اړین دي.

په بېلابېلو ژبو د اسلامي محتوا د خدماتو ټولنه

بسم الله الرحمن الرحيم

## پیلیزه

هغه الله لره ستاینه ده چې د روژې میاشت یې پیدا کړې او په ډېرو فضیلتونو سره یې د نورو میاشتو او ورځو په پرتله غوره کړې ده. موږ په محمد بن عبدالله -صلى الله عليه وسلم- او د هغه پر ملګرو درود وایو، اما بعد:

دا د کوچنیانو لپاره د رمضان د میاشتې په اړه پوښتنې او ځوابونه دي خو د لویانو لپاره هم اړین دي. پدې کې د هغو (مسائلو) په اړه یادونه شوې چې کول یې واجب او یا مستحب دي او هغه څه چې د روژې مبارکې میاشتې پر وړاندې یې کول په کار دي، نو روزونکی به ترې هغه څه غوره کوي چې د کوچنیانو د حال او عمر سره مناسب وي.

صحابه کرامو رضي الله عنهم به په خپلو اولادونو په وړوکوالي کې روژې نیولې تر څو یې له دې عبادت سره عادت کړي.

په حدیث کې له ربیع بنت معوذ بن عفراء رضی الله عنها څخه روایت دی هغې ویلې چې: رسول صلى الله عليه وسلم د عاشورا په سهار د مدینې شاوخوا د انصارو کلیو ته خلک ولیږل:

«مَنْ كَانَ أَصْبَحَ صَائِمًا فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ، وَمَنْ كَانَ أَصْبَحَ مُفْطِرًا فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِهِ»،

«چا چې په تاسو کې له روژې سره سهار کړی وي نو خپله روژه دې پوره کړي او که چا د بوزې په حال کې سهار کړی وي نو د پاتې ورځې روژه دې بشپړه کړي»، نو له هغې وروسته به مو روژه نیوله، او ان شاء الله چې خپل واړه کوچنیان به مو هم روژه کول او جومات ته به تللو، نو هغوی ته به مو له وړیو ښځه یوه لوبه جوړه کړه، نو که کوم یو به د خوړو پسې وژړل د روژه ماتې پر مهال به مو خواړه ورکړل. (((بخاري: 1960 او مسلم: 1136 روایت کړی او الفاظ د همده دي))).

په دې حدیث کې ذکر شوي چې دوی به ورته د رنګ شوو وړیو ښځه د لوبو لپاره یو څه جوړول، نو که چا به د خوړو پسې ژړل همغه لوبه به یې ورکړه تر څو پرې بوخت شي، تر دې چې د روژه ماتې وخت راورسیږي، نو پدې ډول به یې په تدریجي توګه ماشومان د عبادت سره عادتول.

نو دا باید په پام کې ونیول شي چې که په ماشوم سخته وه، نو د روژې په بشپړولو دې نه مجبوریږي، تر څو یې دا کار د کرکې لامل ونه ګرځي، یا یې له امله دروغ ویلو ته اړ نه شي، یا یې د ناروغۍ د زیاتېدو لامل ونه ګرځي، ځکه چې دی له مکلفو کسانو ښځه نه دی، نو دا په پام کې نیول په کار دي، او په روژې نیولو کې پرې سختي راوړل په کار نه دي.

د بشپړې فایدې لپاره موږ هغه مسئلې ذکر کړې چې لویان پرې باید پوه شي او ماشومانو ته ترې د تدریس پرمهال ډېره

وشي، دا خبره مو په خپل ځای کې په دې کتاب کې په ګوته کړې او د دوو قوسونو تر منځ مو داسې ليکلي: ((د لويانو لپاره)).

له دې سره له الله تعالی څخه غواړو چې پدې (پيغام) سره ګټه ورسوي او قبول يې کړي.

## پوښتنې او ځوابونه

### د روژې مياشت څه ده؟

ج: د روژې مياشت د کال تر ټولو غوره او د قمري کال نهمه مياشت ده، د دې مياشتې روژه نيول د اسلام له پنځو ارکانو څخه يو رکن دی.

له ابن عمر - رضي الله عنهما - څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالْحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ»

ژباړه: «اسلام په پنځو شيانو ولاړ دی: ګواهي ورکول چې له الله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد - صلی الله عليه وسلم - د الله رسول دی، لمونځ کول، زکات ورکول، د بيت الله حج او د رمضان روژه نيول». (([بخاري: 8، او مسلم: 16 روايت کړی])).

### آيا د رمضان مياشتې روژه نيول فرض دي؟

ج: هو، د رمضان مياشتې روژه نيول فرض او د اسلام له ارکانو څخه يو رکن دی.

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ﴾

ژباړه: (اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! پر تاسې روژه فرض کړای شوې ده لکه څنګه چې ستاسې پر پخوانیو فرض کړای شوې وه، د دې له پاره چې تاسې پرهېزګاران شئ). [البقرة ۱۸۳].

﴿كُتِبَ عَلَيۡكُمُ﴾،

﴿كُتِبَ عَلَيۡكُمُ﴾،

یعنې: فرض کړی شوې ده پر تاسې.

او د الله تعالی دغه وینا:

﴿فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُ﴾

ژباړه: (نو په تاسو کې چې څوك پدې میاشت کې حاضر و، هغه دې د دې روژې ونیسي) [البقرة ۱۸۵].

### روژه څه ده؟

ج: دا له نیت سره د الله تعالی عبادت دی چې د لمر خاته څخه تر لمر لوېدو پورې د خوړلو، څښلو او نورو ټولو هغو شیانو څخه ډډه وشي چې روژه ماتوي.

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ ٱلۡخَيۡطُ ٱلۡأَبۡيَضُ مِنَ ٱلۡخَيۡطِ ٱلۡأَسۡوَدِ مِنَ ٱلۡفَجۡرِۖ ثُمَّ أَتِمُّواْ ٱلصِّيَامَ إِلَى ٱلَّيۡلِ﴾

ژباړه: (خورئ، څښئ تر هغه وخته چې د شپې د تروږمې له تورې لیکې نه مو (د سهار) سپینه کرښه (خط) تر سترګو

شي. بيا تر شپې پورې خپله روژه بشپړه (پوره) کړئ]. [البقرة ۱۸۷].

يعني: تر هغه وخته پورې چې د سهار په روښنايي سره درته صبح صادق په ډاګه شي او د شپې له تورو الي څخه جلا شي، بيا د سهار له ختلو څخه تر لمر لوېدو پورې د روژه ماتوونکو شيانو څخه په ډډې کولو سره روژه بشپړه کړئ.

### د رمضان فضيلتونه څه دي؟

ج: ډېر فضيلتونه لري، لکه:

۱ - دا هغه مياشت ده چې قرآن پکې نازل شوی، الله تعالی فرمايلي:

﴿شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ﴾

ژباړه: [د رمضان مياشت هغه ده چې په هغې کې قرآن نازل کړی شوی دی، چې د خلقو لپاره هدايت دی، او د هدايت او د فرقان (د حق او د باطل بېلوونکي) ښکاره دليلونه دي]. [البقرة ۱۸۵].

۲- په دې کې د جنت دروازې خلاصيږي.

۳- پدې کې د دوزخ دروازې تړل کيږي.

۴- پدې مياشت کې شيطانان په زنځيرونو تړل کيږي او شر يې لنډيږي، نو نشي کولی چې لکه د نورو وختونو په څېر مسلمانان په فتنه کې واچوي.

له ابو هريرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«إِذَا دَخَلَ رَمَضَانُ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ، وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِينُ»

ژباړه: «کله چې رمضان راشي، د جنت دروازې پرانیستل شي، د دوزخ دروازې وتړل شي او شیطانان په زنځیرونو وتړل شي». ((بخاري: 3277، او مسلم: 1079 روایت کړې دی)).

۵- پدې کې د قدر شپه ده، چې له زرو میاشتو څخه غوره ده، د هغه چا لپاره چې د ایمان او اجر په نیت یې په عبادت سره تېره کړي، الله تعالی فرمایلي:

﴿لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ﴾

ژباړه: (د قدر شپه له زرو میاشتو نه غوره ده) [القدر ۳].

۶- الله پاک دا میاشت د روژې په فرضیت سره ځانګړې کړې ده، هغه عبادت چې یو له هغو سترو او مهمو اعمالو څخه دی چې بنده پرې الله تعالی ته نږدې کیږي.

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمایل یې:

«قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إِلَّا الصِّيَامَ، هُوَ لِي، وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَخُلْفَةُ فَمِ الصَّائِمِ؛ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ»

ژباړه: «الله تعالی فرمایلي: د بني آدم هر عمل د هغه لپاره دی پرته له روژې څخه چې هغه زما لپاره دی او زه پرې

اجر ورکوم، قسم په هغه ذات چې د محمد صلى الله علیه وسلم نفس د هغه په لاس کې دی چې د روژه لرونکي انسان د خولې بوی د الله تعالی په نزد د مشکو له بوی څخه پاکیزه دی».
((بخاري: 1904، او مسلم: 1151 کړی دی)).
«لخُلْفة فم الصائم» یعنې د هغه د خولې بوی بدلیدل.

۷- دا چې چا د الله تعالی د رضا لپاره په روژې او قیام سره تېره کړه، نو ټول مخکني ګناهونه به یې وبښل شي.

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمایلي:

«مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»
ژباړه: «چا چې د رمضان روژه - په الله تعالی - د ایمان په وجه د ثواب په نیت ونیوله؛ نو مخکني ټول ګناهونه به یې وبخښل شي». ((بخاري: 38، او مسلم: 760 روایت کړی دی)).

او دا حدیث:

«مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»
ژباړه: «چا چې د رمضان میاشت - په الله تعالی - د ایمان له مخې او د ثواب په نیت په عبادت کې تېره کړه؛ نو مخکني ګناهونه یې بخښل کیږي». ((بخاري: 37، او مسلم: 759 روایت کړی دی)).

«إِيمَانًا» یعنې په الله تعالی د ایمان له مخې او دا چې د هغه لخوا پرې فرض شوې ده.

«احْتِسَابًا» یعني: د الله تعالی څخه د اجر غوښتلو او ثواب په نیت، نه د ننداريِ یا بل څه لپاره چې د اخلاص سره په ټکر کې (عملونه) دي.

۸- دا چې په رمضان کې عمره د حج په څېر اجر لري.

ابن عباس رضي الله عنهما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایتوي چې هغه فرمایلي:

«عُمْرَةٌ فِي رَمَضَانَ تَقْضِي حَجَّةً، أَوْ حَجَّةً مَعِي»

ژباړه: «په رمضان کې عمره د حج سره برابر ده، یا زما سره د حج کولو سره». (((بخاري: 1863، او مسلم: 1256 روایت کړی دی)).

«تَقْضِي حَجَّةً» یعني ثواب يې د حج له ثواب سره برابر دی.

۹- څوک چې روژه دار ته یکې روژه ماتی ورکړي، نو د هغه د ثواب په څېر به د ده لپاره هم وي.

له زید بن خالد الجهني -رضي الله عنه- څخه روایت دی وایي چې: رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ، غَيْرَ أَنَّهُ لَا يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِ الصَّائِمِ شَيْئًا»

ژباړه: «څوک چې روژه دار ته روژه ماتی ورکړي، نو د روژه دار د اجر په څېر به ورکړل شي، پرته له دې چې د روژه دار په اجر کې کوم کمښت راشي». (((ترمذي: 807، او ابن ماجه: 1746 روایت کړی دی))).

۱۰- (د دې مياشتې) په هره شپه کې الله تعالی له اور څخه ځينې خلک آزادوي.

له جابر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«إنَّ للّهِ عندَ كلِّ فِطرٍ عتقاءَ وذلِك في كلِّ ليلةٍ»

ژباړه: «الله تعالی په هر روژه ماتي کې له اور څخه ازادوونکي لري، او دا کار هره شپه کيږي». (((ابن ماجه: 1643 روايت کړی دی))).

۱۱- د رمضان روژه نيول د تيرو رمضانونو څخه مخکې د ګناهونو د کفارې سبب ګرځي، پدې شرط چې له لويو ګناهونو څخه ډډه وشي.

له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ، وَالْجُمْعَةُ إِلَى الْجُمْعَةِ، وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ، مُكَفِّرَاتٌ مَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ»

ژباړه: «پنځه وخته لمونځونه، له يوې جمعې څخه تر بلې پورې، او له يو رمضان څخه تر بل پورې، د دوی تر منځه د ګناهونو کفاره ده پدې شرط چې له کبيره ګناهونو څخه ځان وساتل شي». ((( مسلم: 233 روايت کړی دی))).

کبيره ګناهونه توبې ته اړتيا لري.

په عامه توګه دلايل ښيي چې د روژې مياشت د عبادت، نيکۍ، سخاوت، رحمت، بخښنې او د دوزخ له اور څخه د خلاصون مياشت ده.

### د روژې فضیلتونه څه دي؟

ج: د روژې فضیلتونه په لاندې ډول دي:

١ - الله تعالی به هغه ته د نورو ټولو اعمالو نه جلا له خپل لورې یو ځانګړی اجر ورکړي.

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إِلَّا الصِّيَامَ، فَإِنَّهُ لِي، وَأَنَا أَجْزِي بِهِ»

ژباړه: «د بنی آدم هر عمل د هغه لپاره دی، پرته له روژې څخه، چې هغه زما لپاره ده، او زه به یې بدله ورکوم».

(([بخاري: 1904، او مسلم: 1151 روایت کړی دی])).

2- أنه جُنَّةٌ: یعني د هغه لپاره د اور په وړاندې ډال، پرده او ژغورونکی دی.

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«الصِّيَامُ جُنَّةٌ»

ژباړه: «روژه ډال دی». (([بخاري: 1904، او مسلم: 1151 روایت کړی دی])).

٣- د روژه دار د خولې بوی - چې د خولې د بد بوییی له امله وي - د الله تعالی په نزد د مشکو له بوی څخه غوره دی.

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ))

ژباړه: «په هغه ذات قسم چې د محمد صلی الله علیه وسلم روح یې په لاس کې دی چې د روژه دار د خولې بوی به د قیامت په ورځ د الله تعالی په نزد د مشکو له بوی څخه غوره وي». (((بخاري: 1894، او مسلم: 1151 کې روایت کړی دی))).

۴- د روژه دار لپاره دوه خوښۍ دي.

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ: فَرْحَةٌ حِينَ يُفْطِرُ، وَفَرْحَةٌ حِينَ يَلْقَى رَبَّهُ»

ژباړه: «د روژه دار لپاره دوه خوشحالیاني دي: یوه خوشحالي هغه مهال چې کله روژه ماته کړي، او بله خوشحالي چې کله له خپل رب سره ملاقات کوي». (((بخاري: 1904، او مسلم: 1151 روایت کړی دی))).

۵- په جنت کې یوه دروازه ده چې یوازې روژه لرونکي به ترې داخلیږي.

سهل رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایتوي چې فرمایي:

«إِنَّ فِي الْجَنَّةِ بَابًا يُقَالُ لَهُ: الرَّيَّانُ، يَدْخُلُ مِنْهُ الصَّائِمُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، لَا يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ، يُقَالُ: أَيْنَ الصَّائِمُونَ؟ فَيَقُومُونَ لَا يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ، فَإِذَا دَخَلُوا أُغْلِقَ فَلَمْ يَدْخُلْ مِنْهُ أَحَدٌ»

«په جنت کې یوه دروازه ده چې "الریان" نومیږي، د قیامت په ورځ به یوازې روژه لرونکي ترې ننوځي او له دوی پرته به بل څوک ترې نه داخلیږي: وبه ویل شي چې: روژه

لرونکي چېرته دي؟ نو دوی به راولاړ شي او له دوی پرته به بل هېڅوک ترې نه ننوځي، کله چې ورننوځي بنده به شي او هېڅوک به ترې نور نه داخلیږي» ((بخاري: 1896، او مسلم: 1152 روایت کړی دی))).

۶- د روژه دار دعا نه رد کیږي.

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«ثَلَاثَةٌ لَا تُرَدُّ دَعْوَتُهُمُ؛ - ومنهم- الصَّائِمُ حَتَّى يُفْطِرَ»

ژباړه: «درې کسان دي چې دعا یې نه رد کیږي: - له دوی څخه - یو روژه دار دی چې روژه یې ماته کړې نه وي».

((ترمذي: 3598 روایت کړی))).

## د روژې حکمت او ګټه څه ده؟

ج: روژه لوی ځلاند حکمتونه لري، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱- د لویو حکمتونو څخه یې یو دا دی چې الله تعالی د تقوا د ترلاسه کولو وسیله بللې ده او تقوا هغه څه کول دي چې الله تعالی پرې امر کړی او هغه څه پرېښودل دي چې هغه منع کړي دي.

الله تعالی فرمایلي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ﴾

ژباړه: [اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! پر تاسې روژه فرض کړای شوې ده لکه څنګه چې ستاسې پر پخوانیو

فرض کړای شوي وه، د دې لپاره چې تاسي پرهېزګاران شئ). [البقرة ۱۸۳].

۲- روژه انسان ته صبر ور زده کوي، کوم چې د هرڅه بنسټ دی. او صبر درې ډوله دی: د الله تعالی په اطاعت صبر تر څو يې ترسره کړي، د الله تعالی له نافرمانی څخه د ځان ساتلو لپاره صبر تر څو يې پرېږدي، او په تقدير صبر.

۳- د رمضان د روژه نيولو له ګټو څخه يوه ګټه دا ده چې دا په ټوله ټولنه کې د الله تعالی عبادت څرګندوي، تاسو به د ختيځ څخه تر لويديځ پورې ټول مسلمانان ومومئ چې پدې میاشت کې په روژه نيولو سره يوه خوله دي.

۴- په اطاعت او عبادت عادت کېدل چې ځانګړې يې روژه ده.

۵- د الله تعالی د رضا لپاره د شيانو پرېښودلو عادت کېدل.

۶- روژه لرونکی پر ځان د الله تعالی نعمتونه احساسوي، د خوراک او څښاک نعمت په شمول.

۷- روژه نيول روژه نيوونکي ته د کمزورو، بې وزلو او اړمنو پر وړاندې د شفقت احساس ورکوي؛ ځکه چې هغه د لوږې درد احساسوي.

۸- روژه د شيطان او د هغه د وسوسو نفوذ کمزوری کوي.

۹- روژه (انسان ته) اخلاص او پر ځان څارنه ورزده کوي، ځکه هيڅوک روژه لرونکی له خوراک او څښاک څخه نه منع کوي پرته د الله تعالی له مراقبت څخه.

١٠- لکه څنګه چې ډاکټرانو ویلي، روژه بدن ته روغتیا او ځواک ورکوي.

### څه شی روژه ماتوي؟

ج: ١- په رمضان کې په قصدي ډول خوراک یا څښاک کول؛ لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿ثُمَّ أَتِمُّواْ ٱلصِّيَامَ إِلَى ٱلَّيۡلِ﴾

ژباړه: (بیا تر شپې پورې خپله روژه بشپړه (پوره) کړئ). [البقرة ١٨٧].

خو څوک چې په هېره سره خوراک یا څښاک وکړي، روژه یې صحیح ده، او که په یاد یې راشي یا ورته یادونه وشي چې روژه لري، نو باید خوراک پرېږدي. ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«مَنْ نَسِيَ وَهُوَ صَائِمٌ، فَأَكَلَ، أَوْ شَرِبَ؛ فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ، فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللهُ وَسَقَاهُ»

ژباړه: «څوک چې د روژې په حالت کې په هېره باندې خوراک او یا څښاک وکړي، نو خپله روژه دې پوره کړي، ځکه الله تعالی ورته خوراک او څښاک ورکړي دي».

((بخاري: 1933، او مسلم: 1155 روایت کړی دی)).

٢- قصدي کانګې کول، چې هغه په قصدي توګه د خولې له لارې له معدې څخه د خوړو یا څښاک راوایستل دي. خو که چېرې کانګې پرې غالبې شي او په غیر ارادي ډول ترې راووځي، نو په روژه یې اغېز نه کوي.

دلیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وینا ده:

«مَنْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ فَلَيْسَ عَلَيْهِ قَضَاءٌ، وَمَنِ اسْتَقَاءَ عَمْدًا فَلْيَقْضِ»
ژباړه: «چا چې پرته له اختیاره کانګې وکړې هغه باندې قضا نشته، او څوک چې په قصدي ډول کانګې وکړي باید قضا راوړي». (([ترمذي: 720 روایت کړی دی])).
«ذَرَعَهُ الْقَيْءُ» یعني: له اختیار پرته پرې کانګې ولګېدې.
۳- ارتداد او کفر، ځکه چې دوی د عبادت سره منافي دي، الله تعالی فرمایلي:
﴿لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ﴾
ژباړه: (که تا شرك وکړ (نو) ستا عمل به خامخا لازمًا برباد شي). [الزمر ٦٥].
۴- حجامت کول، حجامت له پوستکي څخه د وینې را ایستلو ته وایي.
دلیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وینا ده:
«أَفْطَرَ الْحَاجِمُ وَالْمَحْجُومُ»
ژباړه: «د حجامت کوونکي او هغه شخص چې حجامت ورته شوی، د دواړو روژه ماته شوې ده». (([أبو داود: 2367 روایت کړی دی])).
او د حجامت په څېر یو چاته د وینې ورکول هم دي.
خو له زخم څخه د وینې راوتل، یا غاښ وتل، یا له پوزې څخه وینه بهېدل، نو دا زیان نه رسوي. ځکه چې دا حجامت نه دی، او نه حجامت ته ورته معنی لري.
۵- ((د لویانو لپاره)). روژه په کوروالي او یا مني ویستلو سره باطلېږي.

۶- ((د لویانو لپاره)). د میاشتني عادت یا د زیږون وروسته وینه بهیدل. هر کله چې یوه ښځه د حیض یا د زیږون وروسته وینه وویني، نو هغه باید خپله روژه ماته کړي او د هغې قضاء راوړي. ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښځو په اړه فرمایلي دي:

«... أَلَيْسَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ»

ژباړه: «... ایا داسې نه ده چې ښځه حایضه وي نو لمونځ نه کوي او روژه نه نیسي؟» ((بخاري: 304 روایت کړی)).

۷- هغه څه چې د خوراک او څښاک په معنا دي: لکه د تغذیې لپاره ستنې وهل.

### په روژه کې مستحب عملونه کوم دي؟

ج: روژه دار ته مستحب او مسنون دي چې په خپله روژه کې لاندې چارو ته پاملرنه وکړي.

۱- پیشلمی: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«تَسَحَّرُوا؛ فَإِنَّ فِي السَّحُورِ بَرَكَةً»

ژباړه: «پیشلمی وکړئ، ځکه چې په پیشلمي کې برکت وي» ((بخاري: 1923، او مسلم: 1095 روایت کړی)).

پیشلمی د ډېر یا لږ خوراک په خوړلو سره کېدای شي، حتی که یوازې د اوبو یو غړپ هم وي. د پیشلمي وخت له نیمې شپې څخه تر سهار راختلو پورې دی.

۲- پیشلمی ځنډول: د زید بن ثابت رضي الله عنه د حدیث له مخې چې وایي:

«تَسَحَّرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم، ثُمَّ قُمْنَا إِلَى الصَّلَاةِ، قُلْتُ: كَمْ كَانَ قَدْرُ مَا بَيْنَهُمَا؟ قَالَ: خَمْسِينَ آيَةً»

ژباړه: «موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره پېشلمي وکړ، بيا د لمانځه لپاره پاځېدو. ما وويل: د دوی دواړو ترمنځه څومره وخت و؟" هغه وفرمايل: پنځوس آيتونه». (([بخاري: 575، او مسلم: 1097 روايت کړی دی])).

«پنځوس آيتونه» يعنې: د پېشلمي او د سهار اذان ترمنځه د پنځوسو آيتونو د تلاوت کولو په اندازه، په حديث کې ورروستي وخت ته د پېشلمي ځنډولو ته هڅونه ده چې د سهار له راختلو څخه لږ مخکې وخت پورې وځنډول شي.

۳- د روژې په ماتولو کې بيړه کول: د روژه دار لپاره مستحب دي چې د لمر لوېدو سره سم روژه ماته کړي.

د سهل بن سعد رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«لَا يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ»

ژباړه: «خلک به تر هغه پورې په خېر وي چې دوی په روژه ماتي کې بيړه کوي». (([بخاري: 1957، او مسلم: 1098 روايت کړی دی])).

۴- په تازه خرماوو (رطب) سره روژه ماتول: که تازه خرما نه لرئ، نو همداسې خرما، او که دا هم نه وي نو په يو څو غړپه اوبو سره يې ماته کړئ.

دليل يې د انس رضي الله عنه حديث دی:

«كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يُفْطِرُ عَلَى رُطَبَاتٍ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ رُطَبَاتٌ فَعَلَى تَمَرَاتٍ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ حَسَا حَسَوَاتٍ مِنْ مَاءٍ»

ژباړه: «د الله رسول صلى الله عليه وسلم به د لمانځه څخه مخکې په تازه خرماوو روژه ماتوله، که تازه خرما به نه وې، نو په وچو کجورو سره، او که هغه به هم نه وې، نو په څو غړپه اوبو سره به يې ماتوله». (((أبو داود: 2356 روايت کړی دی))).

«حسا حسوات» يعنې: درې ځلې اوبه څښل (په درېو ساګانو).

که داسې يو ځای کې و چې د روژه ماتې وخت راغی او ده سره د روژه ماتې لپاره څه نه و، نو په زړه کې دې د روژې ماتولو نيت وکړي، او همدا ورته بسنه کوي.

۵ - د روژه ماتې پر مهال دعا کول، همدا رنګه د روژې پر مهال.

دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم وينا ده:

«ثَلَاثَةٌ لَا تُرَدُّ دَعْوَتُهُمُ: الْإِمَامُ الْعَادِلُ، وَالصَّائِمُ حِينَ يُفْطِرُ، وَدَعْوَةُ الْمَظْلُومِ»

ژباړه: «درې کسان داسې دي چې دعا يې نه رديږي: يو عادل پاچا، بل روژه دار تر څو يې چې روژه نه وي ماته کړې او د مظلوم خبرا». (((ترمذي: 3598 روايت کړی دی))).

۶- ډېره صدقه کول، د قرآن کريم تلاوت، روژه دارانو ته روژه ماتی ورکول او نور نيک کارونه کول.

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې:

«كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَجْوَدَ النَّاسِ، وَكَانَ أَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ حِينَ يَلْقَاهُ جِبْرِيلُ، وَكَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ، فَيُدَارِسُهُ الْقُرْآنَ، فَلَرَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَجْوَدُ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ»

«رسول الله صلى الله عليه وسلم تر ټولو زيات سخي و او د نورو وختونو په پرتله به يې د رمضان په مياشت کې سخا ډېره زياته وه کله به چې جبريل عليه السلام ورسره مخ کېده، او د رمضان د مياشتې په هره شپه کې به ورسره مخ کېده او قرآن به يې ورسره تکراراوه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به د خير په کارونو کې د تيز باد څخه هم ډېر سخي و». (((بخاري: 6، او مسلم: 2308 کړی دی))).

٧- د شپې په لمانځه کې ډېر زيار ويستل: په ځانګړې توګه د روژې په وروستيو لسو شپو کې.

له عائشې رضی الله عنها څخه روايت دی، هغې وويل:

«كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ شَدَّ مِئْزَرَهُ وَأَحْيَا لَيْلَهُ وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ»

ژباړه: «کله به چې د رمضان وروستۍ لسيزه پيل شوه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به خپل ملابند ټينګ کړ، شپه به يې (په عبادت سره) رڼا کړه او خپله کورنۍ به يې راويښوله». (((بخاري: 2024، او مسلم: 1174 روايت کړی دی))).

«کله به چې لسيزه راورسيده» يعني د رمضان وروستۍ لسيزه.

«هغه به خپل ملابند ټینګ کړ» دا د عبادت لپاره د چمتووالي او د معمول څخه ډېر سخت کار کولو لپاره یوه استعاره ده.

«شپه به یې ژوندۍ کړه» یعنې: په ویښه یې په لمانځه او نورو عبادتونو تېروله.

«هغه خپله کورنۍ یې راویښوله» پدې معنی: چې د شپې یې د لمانځه لپاره راویښول.

۸- عمره کول:

دلیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا ده:

«فَإِذَا جَاءَ رَمَضَانُ فَاعْتَمِرِي، فَإِنَّ عُمْرَةً فِيهِ تَعْدِلُ حَجَّةً»

ژباړه: «نو کله چې رمضان راشي، عمره وکړه، ځکه چې په دې (رمضان) کې عمره د حج سره (په ثواب کې) برابر ده». (((بخاري: 1782، او مسلم: 1256 روایت کړې دی))).

۹- هغه چا ته داسې ویل چې  ښکنځلې درته کوي: «زه روژه لرم»، او خلکو ته ښې خبرې کول، او بدې خبرې نه کول؛

دلیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا ده:

«إِذَا أَصْبَحَ أَحَدُكُمْ يَوْمًا صَائِمًا، فَلَا يَرْفُثْ، وَلَا يَجْهَلْ، فَإِنِ امْرُؤٌ شَاتَمَهُ، أَوْ قَاتَلَهُ، فَلْيَقُلْ: إِنِّي صَائِمٌ، إِنِّي صَائِمٌ»

ژباړه: «کله چې له تاسو څخه څوک یوه ورځ روژه ونیسي، نو هغه دې فحش خبرې نه کوي او نه دې په ناپوهۍ سره کوم عمل ترسره کوي. که څوک ورته سپکاوی کوي یا ورسره

جګړه کوي، نو هغه دې ووايي: 'زه روژه يم، زه روژه يم».
(([بخاري: 1904، او مسلم: 1151 روايت کړی دی])).
«نو پوچ به نه وايي» پدې معنی چې فحش خبرې به نه کوي.

«او ناپوهه دې نه اوسې» ناپوهي: د حکمت خلاف او د سمې وينا او عمل مخالفه کړنه.

۱۰- د روژه دار لپاره سپارښتنه کيږي چې د روژې د ماتولو په وخت کې ووايي:

«ذَهَبَ الظَّمَأُ، وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ، وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ»
ژباړه: «تنده لاړه، رګونه لانده شول او ان شاء الله چې اجر (د الله تعالی) سره يقيني شو». (([أبو داود: 2357 روايت کړی دی])).

### د روژې پر مهال مکروه کارونه کوم دي؟

ج: ځينې شيان شته چې د روژه دار لپاره مکروه دي او کولی شي د هغه روژه فاسده او يا يې اجر کم کړي، لکه:

١ - د خولې او پوزې په وينځلو کې مبالغه کول.

دا له دې وېرې چې اوبه يې معدې ته لاړې نه شي، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«بَالِغْ فِي الِاسْتِنْشَاقِ، إِلَّا أَنْ تَكُونَ صَائِمًا»
ژباړه: «په پوزې وينځلو کې مبالغه وکړئ، مګر دا چې روژه اوسئ». (([أبو داود: 2366 روايت کړی])).

۲ - د بلغم یا لیاړو تېرول؛ ځکه چې ګیډې ته رسیږي او انسان پرې تقویه کیږي، سربیره پردې لدې عمل څخه رامینځته شوې کرکه او زیان هم لري.

۳- له اړتیا پرته د خوړو خوند څکل: که چیرته یې خوند لیدلو ته اړتیا وه - د بېلګې په توګه که اشپز و او د مالګې او یا بل څه لیدو ته یې اړتیا درلوده - نو باک نه لري، خو له احتیاط نه به کار اخلي چې څه شی یې له ستوني تېر نه شي.

۴- د ورځې ډېر خوب کول، د وخت ضایع کول، او بې ګټې خبرې او کارونه کول، حال دا چې په کار ده ورځ د عبادت لپاره غنیمت وګڼل شي.

۵- ((د لویانو لپاره)) ښکلول؛ د هغه چا لپاره چې شهوت یې راپاریږي، او ځان نه شي کنترولولی: نو د داسې روژه دار لپاره د خپلې میرمنې ښکلول مکروه دي؛ چې ممکن له امله یې شهوت راوپاریږي او د انزال یا کوروالي له امله یې روژه خرابه شي، که داسې و چې روژه یې نه خرابیږي، بیا باک نه لري.

۶- ((د لویانو لپاره))، د کوروالي په اړه فکر یا داسې خبرې کول چې شهوت یې راوپاریږي.

### د رمضان په میاشت کې له عذر پرته د روژې خوړلو حکم؟

ځواب: که چیرته یو مسلمان د روژې په میاشت کې یوه ورځ پرته له عذر څخه روژه وخوري، نو پرې واجب دي چې الله تعالی ته توبه وباسي او له هغه څخه بخښنه وغواړي، ځکه چې دا یو لوی جرم او غټه ګناه ده، او د توبې او ښښنې

غوښتلو سربيره پرې له رمضان نه وروسته د روژې قضا راوړل واجب دي.

## په رمضان کې څوک دعذر له کبله د ورځې له خوا روژه خوړلی شي او څه پرې لازم دي؟

ج: لومړی حالت: که څوک داسې ناروغي ولري چې له امله يې روژه نه شي نيولی، يا مسافر وي، يا اميندواره مېرمن وي او يا شيدې ورکوونکي وي، نو برابره خبره ده چې که په خپل ځان يا خپلو ماشومانو يې ويره درلوده، يا بل داسې عذر يې درلوده چې له امله يې ورته د روژې خوړل روا کېدل، نو روژه خوړل ورته روا دي او د رمضان نه وروسته پرې د روژې قضايي راوړل واجب دي؛ الله تعالی فرمايلي:

﴿فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾
ژباړه: (نو څوك چې په تاسو کې ناروغ يا په سفر وي، (په هغه) د نورو ورځو شمېرل دي). [البقرة ١٨٤].

يعنې: که ستاسو څخه څوک په داسې ناروغی اخته وي چې روژه نيول ورته سخت وي، يا مسافر وي، نو روژه خوړل ورته روا دي، او بيا دې د هغو ورځو قضايي راوړي چې خوړلي يې دي.

دويم حالت: که چيرته يې ناروغي لاعلاجه وه او داسې وه چې د ده په خبر ناروغتيا نه ښه کيږي، بلکې دوام مومي، او په څېر يې هغه بوډا هم دی چې روژه نشي نيولی، نو د کمزورۍ له امله پرې قضا نشته، خو ډوډۍ ورکول پرې شته او د هرې ورځې په سر به يو مسکين ته خواړه ورکوي چې

اندازه يې نيم صاع دی، او يو صاع نږدې درې کيلو ګرامه کيږي.

الله تعالی فرمايلي:

﴿وَعَلَى ٱلَّذِينَ يُطِيقُونَهُۥ فِدۡيَةٞ طَعَامُ مِسۡكِينٖ﴾

ژباړه: (او په هغو کسانو چې د دې (روژې) طاقت لري، د يو مسکين خوراك فديه لازمه ده). [البقرة ١٨٤]. ابن عباس -رضي الله عنهما- د دې آيت په اړه فرمايلي: ( دا آيت منسوخ نه دی (بلکې مراد ترې هغه) بوډا سړی او بوډۍ ښځه ده چې روژې نه شي نيولی، نو د هرې ورځې په سر به يو مسکين ته خواړه ورکوي). ((بخاري روايت کړی: 4505)).

کله به د روژې قضا راوړي؟ او کله چې د روژې قضا دومره وروسته کړي چې بل رمضان پرې راشي نو څه بايد وکړي؟

څوک چې د رمضان په مياشت کې د شرعي عذر له مخې روژه وخوري، نو بايد د الله تعالی د حکم سره سم يې قضايي راوړي.

﴿وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٖ فَعِدَّةٞ مِّنۡ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾

ژباړه: (او څوك چې مريض وي، يا پر سفر وي، نو (پر هغه) د نورو ورځو شمېرل دي) [البقرة: ١٨٥].

نو په همغه کال کې يې پرې قضايي راوړل واجب دي، او دويمې روژې ته به يې نه وروسته کوي؛ د عايشې رضي الله عنها د دې وينا له کبله: ژباړه: "پر ما به چې د رمضان روژې پاتې وې، نو له شعبان پرته به مې قضايي نه شوه راوړلی، ځکه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په کارونو به بوخته

وم". (([بخاري: 1950، او مسلم: 1146 کې روایت کړی])).

د هغې دا وینا چې فرمایي: "ما به یې یوازې په شعبان کې قضایي راوړلی شوه" پدې دلیل دی چې د راتلونکي رمضان له پیل څخه مخکې یې قضا راوړل اړین دی.

خو که څېرته یې قضایي بلې روژې ته وروسته کړه؛ باید له الله تعالی څخه بښنه وغواړي او توبه وباسي؛ په خپلو کړو پښیمانه شي او د دې ورځې قضایي راوړي؛ ځکه چې قضایي راوړل په وروسته کولو له منځه نه ځي، نو د دې ورځې قضایي به راوړي، که څه هم د دويم رمضان پسې وي.

### *د فرضي روژې آداب څه دي؟*

ج: موږ به یې یو شمېر (آداب) ذکر کړو، چې دا آداب په هر وخت کې اړین دي؛ خو د روژې په میاشت کې او د روژه دار په حق کې پرې زیات ټینګار کیږي:

١- طاعتونو او واجباتو ته پاملرنه، چې له جملې څخه یې په خپل وخت په جماعت سره لمونځ ادا کول دي.

الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبًا مَّوۡقُوتًا﴾

ژباړه: (بېشکه لمونځ له شروع نه په مومنانو باندې په (معلومو) وختونو کې فرض کړی شوی دی) [النساء ١٠٣].

٢- روژه دار باید له هر هغه څه څخه ډډه وکړي چې الله او رسول یې صلی الله علیه وسلم منع کړي دي، لکه: دروغ ویل،

غیبت کول، چغلي کول، دوکه ورکول، موسیقي اوریدل او نور گناهونه او سرکښی.

له ابو هريره رضی الله عنه څخه روایت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:

«مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ»

ژباړه: «څوک چې درواغ وينا، عمل پرې کول او جهالت پرې نه ږدي، نو الله تعالی يې خوراک او څښاک پرېښودلو ته اړتيا نه لري» (((بخاري: 1903 روايت کړی))).

" الزور" يعني درواغ ويل، له حق څخه انحراف کول او په باطل عمل کول.

"الله تعالی اړتيا نه لري" پدې معنی چې الله تعالی يې روژې ته نه ګوري او نه يې ترې قبلوي، دا په دې معنی نه ده چې هغه ته د روژې د پرېښودلو امر شوی دی، بلکې دا د دروغ ويلو په وړاندې د خبرداري معنی لري.

### هغه کوم څيزونه دي چې روژه دار ته يې کول روا دي؟

ج: څو شيان شته چې علماوو جايز بللي لکه:

١ - لامبل او په اوبو سره ځان يخول.

٢ - مسواک کارول.

٣ - خولې او پوزې ته له مبالغې پرته اوبه اچول.

۴ - د معاينې لپاره لړه وينه اخيستل.

۵ - د سترګو او غوږونو لپاره څاڅکې يا قطره.

۶ - د درملنې لپاره ستن وهل چې تغذیه ورکوونکې نه وي.

۷- د اړتیا پر مهال له تېرولو پرته د خواږو څکل، پدې شرط چې بیرته یې تو کړي.

۸ - خوشبوي لګول او بوی کول.

۹ - په سترګو کې رانجه کول.

***په رمضان کې د قیام لمونځ څومره فضیلت لري؟***

ج: په رمضان کې د شپې لمونځ، چې د تراویح لمونځ بلل کیږي، ډېر فضیلت لري.

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»

ژباړه: «چا چې د رمضان میاشت - په الله تعالی - د ایمان او د ثواب په نیت په عبادت کې تېره کړه؛ نو مخکني ګناهونه به یې وبخښل شي». ((بخاري: 37، او مسلم: 759 روایت کړی دی)).

«إِيمَانًا» یعنې: په الله تعالی د ایمان له مخې او دا چې د هغه پاک ذات لخوا فرض شوی دی.

«احْتِسَابًا» یعنې: د الله تعالی څخه د اجر او ثواب د تمې په نیت، نه د ننداریې یا بل څه لپاره چې د اخلاص سره په ټکر کې (عملونه) دي.

او هڅه دې وکړي چې د تراویح لمونځ په جماعت سره وکړي (او تر) پایه له امام سره پاتې شي، تر څو د ټولې شپې

د قیام ثواب ترلاسه کړي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«مَنْ قَامَ مَعَ الْإِمَامِ حَتَّى يَنْصَرِفَ كُتِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ»

ژباړه: «څوک چې له امام سره تر بېرته ګرځېدلو پاتې شي د ټولې شپې قيام ورته ليکل کيږي». [[(ترمذي: 806 روايت کړی)]].

## د روژې په وروستیو لسو ورځو او د قدر په شپه کې کوم کارونه کول مستحب دي؟

ج: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د روژې په وروستۍ لسيزه کې د نورو وختونو په پرتله ډېر کوښښ کاوه او د قدر شپه به يې پکې لټوله، دلته موږ د يو شمير هغو کارونو يادونه کوو چې کول يې مستحب دي.

١- په شپو کې (په عبادت) کې ډېر زيار ويستل.

له عائشې رضی الله عنها څخه روايت دی، هغه فرمايي:

«كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ شَدَّ مِئْزَرَهُ، وَأَحْيَا لَيْلَهُ، وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ»

ژباړه: «کله به چې د ذوالحجې وروستۍ لسيزه پيل شوه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به خپل ملابند ټينګ کړ، شپه به يې (په عبادت سره) ژوندۍ کوله او خپله کورنۍ به يې راويښوله». [[(بخاري: 2024، او مسلم: 1174 روايت کړی)]].

د هغې دا وينا چې فرمايي "وشد مئزره" د عبادت لپاره د چمتووالي او له معمول څخه د زياتې هڅې کولو لپاره يوه استعاره ده.

او له هغې څخه دا هم روايت دی:

«كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَجْتَهِدُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مَا لَا يَجْتَهِدُ فِي غَيْرِهِ»

ژباړه: «رسول الله صلی الله عليه وسلم به د (روژې د مياشتې) په وروستيو لسو شپو کې د نورو شپو په پرتله زيات زيار ويسته». (((مسلم: 1175 روايت کړی))).

د قدر شپه د روژې په وروستيو لسو شپو کې ده، نو يو مسلمان بايد د قدر شپې د لاندې کولو لپاره له ټولو لسو شپو څخه ډيره ګټه پورته کړي. د ابن عباس رضی الله عنهما روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

«الْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ»

ژباړه: «د قدر شپه د رمضان مياشتې په ورستيو لسو شپو کې ولټوئ». ((( بخاري په: 2021 روايت کړی))).

٢ - د قدر شپه په عبادت کې تېرول.

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«مَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»

ژباړه: «څوک چې د قدر شپه -د دې شپې او پکې د عبادت په فضيلت د ايمان درلودلو او ثواب په نيت په عبادت - کې تېره کړي، د هغه تېر ګناهونه به وبخښل شي». (((بخاري: 1901، او مسلم: 760 روايت کړی))).

٣ - په جوماتو کې اعتکاف ته کېناستل.

له عائشې رضی الله عنها څخه روايت دی وايي:

«كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَعْتَكِفُ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ»
ژباړه: «رسول الله صلى الله عليه وسلم به د رمضان په وروستۍ لسيزه کې اعتکاف کاوه». ((بخاري: 2033، او مسلم: 1172 روايت کړې))).
اعتکاف: په جوماتونو کې د عبادت لپاره جداوالی، له خلکو سره د بوختيا څخه ځان ساتلو، له دنياوي چارو څخه زړه خالي کولو، او يوازې د يو الله تعالى پر عبادت بوختېدلو ته وايي.

***القدر سورت ولوله او تفسير يې کړه.***

ج: بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ:
﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ١ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ٢ لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ ٣ تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمۡرٖ ٤ سَلَٰمٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطۡلَعِ ٱلۡفَجۡرِ﴾
بېشکه مونږ دا (قرآن) د قدر په شپه کې نازل کړی دی١
او ته څه شي پوه کړې چې د قدر شپه څه شی دی٢
د قدر شپه له زرو مياشتو نه غوره ده٣
په هغې کې ملايکې او روح د خپل پالونکي په اجازه د هر (ټاکلي) کار لپاره را کوزيږي٤
هغه (ټوله) سلامتيا ده تر سهار راختلو پورې٥ [القدر ١ - ٥].
تفسير يې:
﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ﴾

بېشکه مونږ دا (قرآن) د قدر په شپه کې نازل کړی دی)

[القدر ١]. پرته له شکه موږ په پیل کې ټول قرآن یوځای د دنیا اسمان ته رانازل کړی، لکه څرنګه چې مو په نبي صلی الله علیه وسلم د هغه نازلول د رمضان د میاشتې په شب قدر کې شروع کړي و.

﴿وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ﴾

او ته څه شي پوه کړې چې د قدر شپه څه شی دی)

[القدر ٢]. اې نبي! ته څه پوهېږې چې په دغه شپه کې کوم خیر او برکت دی؟!

﴿لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ﴾

(د قدر شپه له زرو میاشتو نه غوره ده)

[القدر ٣]. دغه شپه د لوی خیر شپه ده، چې تر زرو میاشتو غوره ده څوک چې د ایمان لرلو او ثواب په نیت پکې عبادت وکړي، او دا یوه مبارکه شپه ده، پدې کې نېک عمل (په نورو وختونو کې د) زرو میاشتو له عمل څخه غوره دی.

﴿تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمۡرٖ﴾

په هغې کې ملاېکې او روح د خپل پالونکي په اجازه د هر (ټاکلي) کار لپاره را کوزيږي)

[القدر ٤]. په دې شپه کې ملاېکې او جبرئیل علیه السلام د خپل پالونکي په اجازه د هر هغه کار د ترسره کولو لپاره را کوزیږي چې الله تعالی یې په دغه کال کې د کېدو پرېکړه کړې وي هغه که روزي وي، که مرګ، که د چا پیداکېدل او که داسې نور څه وي چې الله تعالی ټاکلي وي.

﴿سَلَٰمٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطۡلَعِ ٱلۡفَجۡرِ﴾
هغه (تېوله) سلامتيا ده تر سهار راختلو پورې)

[القدر ٥]. دغه مبارکه شپه تېوله خير ده له پيل څخه د سهار تر راختلو پورې.

### *زكات الفطر څه شی دی او حکم يې څه دی؟*

ج: دا هغه زکات دی چې روژې پسې د بوزې راتللو په مناسبت اسلام فرض کړی دی.

د فطر زکات پر هر مسلمان؛ لوی او کوچني، نر او ښځې واجب دی چې هر مسلمان به يې له خپل ځان او هغه چا څخه ادا کوي چې دی يې د نفقې مسووليت پر غاړه لري لکه: ښځه او اولادونه.

د ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي:

«فَرَضَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم زَكَاةَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ، عَلَى الْعَبْدِ وَالْحُرِّ، وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى، وَالصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ»

«رسول الله صلى الله عليه وسلم د مسلمانانو پر آزاد او غلام، نارينه او ښځينه، کوچني او لوی، د خرما يا وربشو يو صاع سرسايه فرض کړې ده». (((بخاري: 1503، او مسلم: 984 روايت کړی)))).

د فطر زکات د ځايي خوړو په بڼه ورکول کيږي، لکه وريجې او داسې نور. د سرسايې ورکولو غوره وخت د اختر په سهار د اختر له لمانځه څخه مخکې دی، خو له هغه څخه

يوه يا دوه ورځې مخکې يې ورکول هم روا دي چې اندازه يې نږدې ۳ کيلوګرامه ده.

### د سرسايې د وجوب حکمت څه دی؟

ج: له حکمتونو څخه يې:

۱- د روژې په جريان کې د هر ډول بې ځايه خبرو يا فحش ويناوو څخه د روژه دار پاکېدل.

۲- د دې ډاډ ترلاسه کول چې فقير او مسکين د اختر په ورځ د هيڅ شي غوښتلو ته اړ نه شي، او د دې لپاره چې اختر د ټولنې د ټولو وګړو لپاره د خوښۍ او خوشحالۍ ورځ وي، ابن عباس رضی الله عنهما وايي:

«فَرَضَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم زَكَاةَ الْفِطْرِ طُهْرَةً لِلصَّائِمِ مِنَ اللغْوِ وَالرَّفَثِ وَطُعْمَةً لِلْمَسَاكِينِ»

ژباړه: «رسول الله صلى الله عليه وسلم د فطر صدقه د روژه نيونکي ته د فضول او فحش خبرو څخه د پاکوالي او د مسکينانو ته د يوې مړی ډوډۍ لپاره فرض کړې ده» (((ابوداود: 1609 روايت کړی))).

۳- پدې مبارکه مياشت کې بنده د روژې په نيولو، قيام او هر ممکن نيک عمل کولو سره د الله تعالی د نعمتونو د شکر ادا کول څرګندوي.

۴- په ټاکلي وخت کې مستحقو خلکو ته د زکات ورکولو له لارې لوی اجر او ثواب ترلاسه کيږي.

### د اختر سنتونه کوم دي؟

ج: په اسلام کې اختر د الله تعالی پر فضل او رحمت د خوښۍ څرګندونه ده، د اختر په ورځ د مسلمانانو لپاره ځینې سنتونه په لاندې ډول دي:

١- د اختر لمانځه ته له تلو مخکې غسل کول.

په "الموطا" او نورو کتابونو کې په مستند ډول راغلي چې عبدالله بن عمر رضی الله عنهما به د کوچني اختر په ورځ د لمانځه ځای ته له تلو مخکې غسل کاوه. [[«موطأ مالك» (1/ 177)]].

٢- د اختر لمانځه ته له تللو مخکې خوراک کول، نو تر هغه به لمانځه ته نه وځي چې یو څو داني خرما یې نه وي خوړلي، انس بن مالک رضي الله عنه وایي:

«كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم لا يَغْدُو يَوْمَ الْفِطْرِ حَتَّى يَأْكُلَ تَمَرَاتٍ.. وَيَأْكُلُهُنَّ وِتْرًا»

«رسول الله صلی الله علیه وسلم به د کوچني اختر په ورځ سهار مهال یو څو خرماوې خوړلې ... چې عدد به یې تاق وو». [[بخاري: 953 روایت کړی]].

٣ - په اختر کې تکبیرونه ویل.

په اختر کې تکبیرونه د اختر له شپې څخه پیلیږي - یعنې د رمضان د وروستۍ شپې له غروب څخه - تر دې چې امام د اختر د لمانځه لپاره عیدګاه ته ننوځي.

الله تعالی فرمایلي:

﴿وَلِتُكۡمِلُواْ ٱلۡعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُواْ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمۡ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ﴾

ژباړه: (او د دې لپاره چې تاسو شمېره پوره کړئ او د دې لپاره چې تاسو د الله لویي بیان کړئ، په دې چې هغه تاسو ته هدایت کړی دی، او د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ) [البقرة ۱۸۵].

۴- مبارکي: د اختر له آدابونو څخه یو یې هغه ښاېسته مبارکي ده چې خلک یې په خپلو کې سره تبادله کوي، هغه که په هرو الفاظو وي، لکه یو بل ته ویل چې: "الله تعالی دې زمونږ او ستاسو څخه قبول کړي" یا "اختر مبارک" او داسې نور د مبارکۍ جایز الفاظ او وېناوې.

له جبیر بن نفیر رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام به چې کله د اختر په ورځو کې سره مخ کېدل نو یو بل ته به یې ویل: زما او ستا څخه دې قبول شي. ((محاملي روایت کړی لکه څنګه چې په «فتح الباري» (2/ 446) کې دي، او ابن حجر ویلی: د حدیث اسناد حسن دی)).

۵- د دواړو اخترونو لپاره ځان برابرول او سینګارول:

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت دی وايي:

«یا رسولَ الله، إنِّي رأیت عطاردًا یَبیعُ حُلَّةً من دِیباج، فلو اشتریتَها فلبستَها للوفودِ وللعیدِ؟»

«ای د الله رسوله، ما عُطارِد ولیده چې یوه وربښمینه چپن یې خرڅوله، که چېرته دې پېرلې وای، نو د استازو د راتګ پر مهال او اختر لپاره به دې اغوستله؟» ((بخاري: 948، او مسلم: 2068 روایت کړی)).

او له نافع څخه روایت دی: چې ابن عمر رضي الله عنهما به اخترونو کې خپل تر ټولو ښایسته کالي اغوستل. [[(بیهقي په «السنن الکبری» کې په: 6143 شمېره روایت کړی)]].

۶- لمانځه ته په یوه لاره تلل او په بله لاره بیرته راتلل.

له جابر بن عبد الله رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي:

«كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِذَا كَانَ يَوْمُ عِيدٍ خَالَفَ الطَّرِيقَ»

«رسول الله صلى الله عليه وسلم به د اختر په ورځ لاره بدلوله» [[(بخاري په: 986 روایت کړی)]].

### د شوال شپږ روژې څه فضیلت لري؟

ج: د رمضان د فرضي روژې وروسته د شوال د میاشتې شپږ ورځې روژې نیول مستحب دي او ډېر فضیلت او لوی اجر لري. ځکه څوک چې دا روژې ونیسي، هغه ته د ټول کال د روژې نیولو ثواب ورکول کیږي. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي:

«مَنْ صَامَ رَمَضَانَ، ثُمَّ أَتْبَعَهُ سِتًّا مِنْ شَوَّالٍ، كَانَ كَصِيَامِ الدَّهْرِ»

ژباړه: «چا چې د رمضان روژه ونیوله او بیا وروسته یې د شوال شپږ روژې ونیولې، داسي ده لکه ټول کال یې چې روژه نیولې وي». [[(مسلم: 1164 روایت کړی)]].

### رمضان موږ ته څه را زده کړل، او له رمضان وروسته څه راځي؟

ج: موږ د دې پوښتنې په ځواب سره پای ته رسوو. روژه د اسلام یو له سترو مدرسو څخه ده چې مسلمانان پکې روزل کیږي او دا د دین له ارکانو او د هغې له سترو بنسټونو څخه

يو دی، دا ځيني هغه درسونه او حکمتونه دي چې بنده يې د روژې په مياشت کې د روژې په ښوونځي کې زده کوي، تر څو پرې له رمضان وروسته پاتې شي.

لومړی لوست:

د روژې مياشت موږ ته صبر را زده کړ، کوم چې يو له مهمو او لويو اعمالو څخه دی، ځکه چې الله تعالی ته پرې نږدې والی حاصليږي، پدې کې بنده د خوراک او څښاک په پريښودلو سره صبر کوي، نو په دې توګه د صبر له خوی سره عادت کيږي، کوم چې د ټولو نيکيو ټولګه ده، ځکه پدې کې په اطاعت صبر، له نافرمانۍ څخه په ډډې کولو صبر، او په تقديراتو صبر کول سره يوځای کيږي. الله تعالی د صبر د فضيلت په اړه فرمايي:

﴿إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجۡرَهُم بِغَيۡرِ حِسَابٖ﴾

ژباړه: (بېشکه يوازې صبر کوونکو ته د هغوی اجر بې حسابه پوره ورکول کيږي). [الزمر: ١٠].

دويم لوست:

د روژې مياشت موږ ته دا را زده کړل چې د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم پر وړاندې تسليم شو، په هر هغه څه کې چې هغه پرې امر کوي او هغه څه چې هغه ترې منع کول کوي. الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمۡرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ مِنۡ أَمۡرِهِمۡۗ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلٗا مُّبِينٗا﴾

ژباړه: (او نه دي روا د هېڅ مومن لپاره او نه د مومنې لپاره، کله چې الله او د هغه رسول د يو کار فيصله وکړي دا چې د دوی لپاره دې په خپل کار کې اختيار وي او څوك چې د الله او د هغه د رسول نافرماني کوي، نو يقينًا دغه (کس) ګمراه شو، ښکاره ګمراه کېدل). [الأحزاب: ٣٦].

دريم لوست:

د روژې مياشت موږ ته دا را زده کړل چې له الله جل جلاله څخه ووېرېږو او خپله ژبه، اندامونه او خواهشات د الله تعالى لپاره کنټرول کړو. الله تعالى فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ﴾

ژباړه: (اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی! پر تاسي روژه فرض کړای شوې ده لکه څنګه چې ستاسي پر پخوانيو فرض کړای شوې وه، د دې لپاره چې تاسي پرهېزګاران شئ). [البقرة ١٨٣].

او له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«يَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: الصَّوْمُ لِي، وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، يَدَعُ شَهْوَتَهُ وَأَكْلَهُ وَشُرْبَهُ مِنْ أَجْلِي، وَالصَّوْمُ جُنَّةٌ»

ژباړه: «الله تعالى فرمايي: روژه زما لپاره ده او زه به يې اجر ورکوم. هغه خپل خواهشات، خوراک او څښاک زما لپاره پرېږدي، او روژه ډال دی». (((بخاري: 7492، او مسلم: 1151 روايت کړې))).

او رسول الله -صلى الله عليه وسلم-فرمايلي دي:

«مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ، فَلَيْسَ لِلهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ»

ژباړه: «څوک چې درواغ ويل، عمل پرې کول او جهالت نه پرېږدي، نو الله تعالی يې خوراک او څښاک پرېښودلو ته اړتيا نه لري». (((بخاري: 1903 روايت کړی))).

څلورم لوست:

د روژې مياشتې موږ ته عبادت او د هغې خوړوالی را زده کړ؛ تر څو له روژې وروسته تهجدو، روژو نيولو او د قرآن کريم تلاوت کولو ته دوام ورکړو.

د روژې په اړه، هغه صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»

ژباړه: «چا چې د رمضان روژه - په الله تعالی - د ايمان له مخې او د ثواب په نيت ونيوله؛ نو مخکني ټول ګناهونه به يې وبخښل شي». (((بخاري: 38، او مسلم: 760 روايت کړی))).

او د قيام (تهجدو) د فضيلت په اړه، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«من قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»

ژباړه: «چا چې د رمضان مياشت په قيام (تهجدو) او د الله تعالی د اجر په هيله (په عبادت) کې تېره کړه؛ نو مخکني ګناهونه به يې وبخښل شي». (((بخاري: 37، او مسلم: 759 روايت کړی))).

او د قرآن کريم د تلاوت په اړه به هغه صلی الله عليه وسلم:

«أَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ حِينَ يَلْقَاهُ جِبْرِيلُ، وَكَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ، فَيُدَارِسُهُ الْقُرْآنَ»

«د رمضان په میاشت کې تر ټولو زیات سخي وو، کله به چې جبریل علیه السلام ورسره مخ کېده، حال دا چې هغه به د رمضان په هره شپه کې ورسره مخ کېده، نو قرآن کریم به یې ورزده کاوه» (((بخاري: 6، او مسلم: 2308 روایت کړی))).

نو بنده دې عبادتونو ترسره کولو ته دوام ورکوي، لکه روژه نیول، قیام او د قرآن کریم لوستل، که څه هم د رمضان په څېر نه وي.

پنځم لوست:

د روژې میاشت موږ ته له الله تعالی څخه د ویرې او د احسان د مقام درس راکړ. احسان دې ته وايي چې د الله تعالی داسې عبادت وکړو لکه موږ چې هغه وینو، که چېرته یې موږ نه وینو، نو هغه خو موږ ویني؛ ځکه چې روژه دار د الله تعالی پر ځارنه ځان روزي، نو هر هغه څه پرېږدي چې د هغه نفس یې غواړي، حال دا چې د کولو توان یې لري؛ ځکه هغه پر دې پوهېږي چې الله تعالی یې ګوري. الله تعالی فرمايلي:

﴿وَهُوَ مَعَكُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ﴾

ژباړه: (او دغه (الله) له تاسو سره دی، هر چیرته چې تاسو یاست، بېشکه الله هغه عمل لره بنه لیدونکی دی چې تاسو یې کوئ) [الحديد: ٤].

شپږم لوست:

د روژې میاشتې موږ ته دا را زده کړل چې زموږ دین اسانه دی، او الله تعالی پر یو نفس د هغه له توان پورته مکلفیت نه اچوي، څوک چې د روژې نیولو توان لري، روژه دې ونیسي، او څوک یې چې توان نه لري، هغه دې روژه ماته کړي او قضایې دې راوړي یا دې کفاره ورکړي، خپل حالت ته په لېدو دې یو کار وکړي، الله تعالی فرمایلي:

﴿فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٖ فَعِدَّةٞ مِّنۡ أَيَّامٍ أُخَرَۗ يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلۡيُسۡرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلۡعُسۡرَ وَلِتُكۡمِلُواْ ٱلۡعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُواْ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمۡ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ﴾

ژباړه: [نو په تاسو کې چې څوك دې میاشتې کې حاضر و، نو هغه دې د دې روژې ونیسي، او څوك چې مریض وي، یا پر سفر وي، نو (پر هغه) د نورو ورځو شمېرل دي، الله پر تاسو د اسانتیا اراده لري او پر تاسو باندې د سختۍ اراده نه لري او د دې لپاره چې تاسو شمېره پوره کړئ او د دې لپاره چې تاسو د الله لويي بیان کړئ، په دې چې هغه تاسو ته هدایت کړی دی، او د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ]. [البقرة: ١٨٥].

اووم لوست:

د روژې میاشت موږ ته د خیرات ورکولو، د بې وزلو او اړمنو سره د مهربانۍ او د هغوی پر وړاندې د خواخوږۍ درس راکړ. رسول الله صلی الله علیه وسلم به د روژې په میاشت کې تر ټولو زیات سخي و. (((بخاري: 6، او مسلم: 2308 روایت کړی))).

ځکه چې بنده کله د لوږې درد تجربه کړي، نو دا يې اړ باسي چې د غريبانو سره مرسته وکړي، او دا د تقوا له ځانګړتياوو څخه ده.

اتم لوست:

د روژې مبارکې مياشت موږ ته د الله تعالی د بخښنې، رحمت او فضل پراخوالی را زده کړ. دا د رحمت، مغفرت او د دوزخ له اور څخه د خلاصون مياشت ده. په دې کې د قدر شپه ده، چې له زرو مياشتو څخه غوره ده. يعني له اتيا کلونو او څلورو مياشتو څخه زياته، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ٢ لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ ٣ تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمۡرٖ ٤ سَلَٰمٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطۡلَعِ ٱلۡفَجۡرِ﴾

او ته څه شي پوه کړې چې د قدر شپه څه شی دی۲

د قدر شپه له زرو مياشتو نه غوره ده۳

په هغې کې ملايکې او روح د خپل پالونکي په اجازه د هر (تاکلي) کار لپاره را کوزيږي۴

هغه (ټوله) سلامتيا ده تر سهار راختلو پورې۵ [القدر ۲-۵].

د لوستونو پای:

له رمضان وروسته؟! الله تعالی د روژې رب او د ټولو مياشتو او ورځو رب دی. لدې امله، بنده بايد په يوه اصل ودرېږي که شرايط او ورځې څومره هم بدلې شي، چې هغه اصل له الله تعالی څخه ويره ده.

## پای

په پای کې غواړم ګټورې حوالې او سرچینې په ګوته کړم چې که څوک غواړي د دې موضوع او یا د روژې اړوند مسائلو په اړه ورته مراجعه وکړي.

د شیخ عبدالعزیز بن باز " رسالتان موجزتان في الزکاة والصیام" .

د شیخ محمد بن صالح العثیمین کتاب ""مجالس شهر رمضان".

"مجالس شهر رمضان المبارك" او وروستي: " إتحاف أهل الإیمان بدروس شهر رمضان" د شیخ: صالح بن فوزان الفوزان.

"عقود الجمان في دروس شهر رمضان" د شیخ: سعد بن ترکي الخثلان کتاب.

"دروس شهر رمضان" د شیخ: محمد بن شامي شیبة.

اې الله! ته بخښونکی او سخی یې، او بخښنه خوښوې، نو موږ ته بخښنه وکړه. وصلی الله علی سیدنا محمد وعلی آله وصحبه أجمعین.

فهرست


د رمضان د میاشتې په اړه د کوچنیانو لپاره پوښتنې او ځوابونه چې لویانو ته هم اړین دي............................................................2

پیلیزه.......................................................................2

پوښتنې او ځوابونه........................................................4

د روژې میاشت څه ده؟..................................................4

آیا د رمضان میاشتې روژه نیول فرض دي؟..............................4

روژه څه ده؟................................................................5

د رمضان فضیلتونه څه دي؟...............................................6

د روژې فضیلتونه څه دي؟...............................................11

د روژې حکمت او ګټه څه ده؟...........................................13

څه شی روژه ماتوي؟.......................................................15

په روژه کې مستحب عملونه کوم دي؟.....................................17

د روژې پر مهال مکروه کارونه کوم دي؟..................................22

د رمضان په میاشت کې له عذر پرته د روژې خوړلو حکم؟.........23

په رمضان کې څوک دعذر له کبله د ورځې له خوا روژه خوړلی شي او څه پرې لازم دي؟...................................................24

د فرضي روژې آداب څه دي؟.............................................26

هغه کوم څیزونه دي چې روژه دار ته یې کول روا دي؟..............27

په رمضان کې د قیام لمونځ څومره فضیلت لري؟......................28

د روژې په وروستیو لسو ورځو او د قدر په شپه کې کوم کارونه کول مستحب دي؟..............................................................29

القدر سورت ولوله او تفسیر یې کړه.................................31

زکات الفطر څه شی دی او حکم یې څه دی؟...........................33

د سرسایې د وجوب حکمت څه دی؟....................................34

د اختر سنتونه کوم دي؟ ............................................................. 35
د شوال شپږ روژې څه فضیلت لري؟ ......................................... 37
رمضان موږ ته څه را زده کړل، او له رمضان وروسته څه راځي؟
37 .......................................................................................
پای ......................................................................... 44

ps420v1.0 - 06/09/2026